Vol. 3 No. 4 (2025)

ISSN 3007-3170(O)
ISSN :3007-3162(P)

Social Sciences & Humanity Research Review

# The Role Of Mashal Magazine's Interviews In The Progress Of Pashto Literature

**Irfan Ullah[1], Dr.Shukria Qadir[2]**

[1]MPhil Scholar Pashto Department Abdul Wali Khan University Mardan
[2]Assistant professor Pashto Department Abdul Wali Khan University Mardan

**ARTICLE INFO**

**Keywords:** Mashal Magazine, Pashto journalistic literature, Literary interviews, Research interviews, Interview methodology

**Corresponding Author:**
**Irfan Ullah,** MPhil Scholar Pashto Department Abdul Wali Khan University Mardan

**ABSTRACT**

Mashal is an important figure in Pashto journalistic literature . This article sheds light on the field of interviews of mashal magazine . An interview is a process of sitting with a personality and asking them questions directly, related to their field . An interview is a thing that provides complete and accurate information, leaving no room for doubt . In modern research methods, interviews hold a special place and are considered a reliable reference . Mashal has conducted interviews with various literary , political , and artistic personalities, promoting the culture of interviews in Pashto . This articles mentions all these aspects and discusses these interviews in detail.

مرکه انټرویو ته وئیلې شي - یو سیاستدان ، فنکار ، شاعر ، ماهر تعلیم ، ماهر زراعت یا نور هر څوک چې وي ، هغوي سره کښېناستل او د هغوي د Field متعلق او ژوند په اړه هغوي سره خبرو اترو او سوالونو جوابونو ته مرکه یا انټرویو وئیلې شي -

د تحقیق په نوې طریقو کښې مرکې ته هم یو خاص مقام حاصل دے - مرکه هم یوه مستنده حواله وي او ددې په معلوماتو کښې د شک امکان ډېر کم وي - په دې فېض الوهاب فېض صېب لیکي ؛

” مکالمه ، انټرویو ، ملاقات یا مرکه یو دلچسپ او خوندور
صنف دے او د انسان د تجسس د ذوق او شوق د تسکین
دپاره یوه موثره ذریعه ده - د انسان په ذهن کښې سوال را
پورته کېدل او د هغې د جواب لټون کول د دۀ یو فطري او
ازلي صفت دے ، او هم د دغه صفت لۀ مخه د ژوند په
مختلفو شعبو کښې عموما او په ادب کښې خصوصا مرکې
په باقاعده توګه رواج موندلے دے “ (1)

مرکې دې باید د یو شان field واله خلقو تر مینځه اوشي - یو ماهر زراعت سره دې باید یو د زراعت سره علاقه لرونکے مرکه وکړي او د هغه د پوهې مطابق ترېنه سوالونه او تپوسونه وکړې شي -

”مشال“ ژوند سره علاقه لرونکیو ګڼ شمېر شخصیاتو سره مرکې کړې دي،هغوي ئې اولس سره معرفي کړي دي او اولس ئې د هغوي د خدماتو نه خبر کړے دے - دلته د څو مرکو مختصر احوال بیانولے شي -

رحمت شاہ سائل صیب سرہ مرکه :
سائل صیب د موجوده دور د پښتنو د ټولو نه مقبول ترین شاعر دے - پۀ درگی کښې ژوند کوي - د شاعرئ به ئې یو درځن کتابونه چاپ وي - دا انټرویو ورسره سېد قیوم نېکنام او محمد زېب منصور کړي وه - چشمان موسا خېل هم موجود وۀ - د " مشال "ملگرو ترې ښۀ تفصیلي انټرویو اخستې ده او سائل صیب ئې هم ښۀ تفصیلي جوابونه ورکړي دي - سائل صیب نه ئې د هلکوانئ د وختو د شعر لیکلو او مشاعرو کښې د شرکتونو کولو احوال پوښتلي دي او د نوي ځول د شعري قابلیت تپوسونه ئې ترې کړي دي چې پۀ جواب کښې ئې سائل صیب وائي؛
" نن د پښتو د شاعرئ دومره لوړ معیار دے - پکار ده چې
دې نوي کسانو نوره هم پۀ وړاندې بوتلې وه - پۀ دې اوسني
وخت کښې شاعران پۀ مصنوعي رنگ کښې رنگ دي - زما
مطلب دا دے چې د مځکینو سیورې ئې رانیولي دي او هغه
پۀ مځکښې بیائې - دا خبره ماته درسته نۀ ښکاري "(2)
سائل د پښتو یو همه جهت شاعر دے - چې د شاعرئ مقدار ئې هم ډېر دے او معیار هم - د پښتنو خواره او شډله زندگي ئې سندره کړې ده او پښتانۀ ئې پۀ خپله غریبئ مئېن کړي دي - د دوئ د کلام پۀ نورو ژبو کښې د ترجمې پۀ سوال سائل صیب وائي ؛
"باقاعده ډول نۀ ده ترجمه شوې - البته د باهر ملکونو نه کله
نا کله یو کس ټېلي فون اوکړي چې سائل صیب ستاسو یو
نظم مې دلته ترجمه کړو - زۀ دلته د تعلیم پۀ سلسله کښې
راغلے یم - ریسرچ کوم او هغه ترجمه شوے نظم مې پۀ یوه
مقابله کښې پېش کړو - د نظمونو مقابله وه او هغه انعام
مې گټلے دے " (3)
د " مشال" ملگرو د ادبي شخصیاتو نه علاوه مختلفو فنونو سره تعلق لرونکیو هنرمندانو سره هم مرکې کړې دي - پۀ دغه هنرمندانو کښې د موسیقارانو نه علاوه خطاطان او مصوران هم شامل دي چې دلته ئې لږ تفصیل وړاندې کوو –
شمس الاقبال شمس سره مرکه :
شمس الاقبال شمس شاعر هم دے او خطاط هم - د سوات سیمې سرې تعلق لري - والد بزرگوار الحاج فضل الرحمان فېضان مرحوم هم د سوات یو مشهور خطاط تېر شوے دے چې والئ سوات سره ئې ډېر نزدې تعلق وۀ – انټرویو ورسره د نېکنام صیب زوې واصف خان او د هغه نورو ملگرو کړې وه - پۀ دې انټرویو کښې د " مشال " د ملگرو او شمس صیب تر مینځه د خطاطئ پۀ فن اوږد بحث شوے دے - د شمس صیب د خطاطئ پۀ فن کښې د انفرادیت پۀ سوال هغۀ وائي ؛
"ما زیاته خطاطي پۀ کاڼو ، پاڼو او ، د ونې پۀ پټونو او
چالونو کړې ده - پخوانو خلقو به هم پۀ کاڼو، پاڼو،
هډوکو او ځرمنو لیکل کول - او هم دغه شان قرآن
شریف پۀ مختلفو څیزونو لکه پۀ هډوکو ، ځرمنو
او د کهجورې د ونې پۀ پټونو لیکلے شوے او
محفوظ کړے شوے دے "(4)
شمس پۀ خپلو گوتو ډېرې فن پارې تیارې کړې دي چې پۀ مختلفو ځایونو لکه سوات کانټیننټل هوټل ، ایوب میډیکل کالج ایبټ اباد او نشتر هال پېښور وغېره کښې ئې نمائشونه شوې دي او ډېر مېډانونه ئې هم لوټ کړې دي -
د هغه وخت د صوبه سرحد گورنر علي محمد جان اورکزے سره د خپل ملاقات احوال داسې بیانوي ؛
"گورنر صیب سره زما ملاقات ډېر پۀ خوشگوار ماحول کښې
شوے وۀ - د هغوي پحقله ما یو نظم لیکلے وۀ چې هغه پۀ
ډېر ښۀ خطاطئ سره د ونې پۀ پټ مزین کړے وۀ او ورسره
مې د خپل لاس یو څو فن پارې هم گورنر صیب ته ورکړې
وې - گورنر صیب ما ته ډېر داد راکړو او دا ئې اووې چې
تۀ خو زمونږ د ملک او قوم اثاثه ئې ،پۀ تا مونږ فخر او
ویاړ کوو "(5)

ناصر سیماب سره مرکه :
ناصر سیماب یو خطاط،مصور او شاعر دے - د تخت بهائي سرحد کالونئ سره تعلق لري - د " مشال " یو فعال ملگرے فضل معبود معاذ او سېد قیوم نېکنام د دوئ فن کدې ته لاړل او هغوي سره ئې د خطاطئ او مصورئ پۀ اړه خبرې اترې وکړې چې د مشال لوستونکي ئې د ژوند پۀ اوږدو کښې د خطاطئ د سفر نه باخبر شول - د خپلې خطاطئ د فن ابتدا او د خپلو استاذانو پحقله وائي؛

" زۀ چونکه پۀ یوه غریبه علاقه تخت بهائی کښې اوسېدم،
نو داسې استاذان نۀ ملاوېدل چې ما ترې استفاده کړے
وے - ددې وجې ما نظري استفاده د مختلفو استاذانو
د کتابونو نه حاصله کړه - د دغې نه علاوه د اصلاح پۀ
خاطر زه څو ځله کراچۍ ته او لاهور ته لاړم او ما هلته
ډېرو غټو غټو استاذانو ته خپل کار اوښودلو او هغوي
زما ډېره حوصله افزائي اوکړه "(6)

پۀ دې مرکه کښې سیماب صېب پۀ مصورۍ او خطاطۍ ډېرې ژورې خبرې کړې دي او د " مشال " لوستونکیو له ئې پۀ دې اړه ډېر معلومات ورکړې دي - د مصورۍ د ابتدا پۀ حقله وائي ؛

" د مصورۍ د فن نه علاوه خط هم یو عظیم فن دے -
دا هم الهامي او اکتسابي دواړه کېدے شي - پۀ دنیا
کښې د ټولو نه اول د خبرو اترو ذریعه ارټ یعني
پېنټنګ وۀ - یوې قبیلې به بلې قبیلې ته د پېغام
رسولو دپاره پېنټنګ کولو یعني دغه پېغام به پۀ
تصویري شکل کښې وۀ ، لکه هغوي به چاته دا
پېغام ورکولو چې مونږ به سحر درځو نو هغوي به
غر جوړ کړو او د غر پۀ څوکو کښې به ئې نمر ښکاره
کړو " (7)

اجمل خټک صېب سره مرکه :

**پښتو کښې بعضې داسې سیاست دانان دي چې هغوي لوے لوے شاعران او ادیبان هم دي ، چې پکښې اجمل خټک ، افراسیاب خټک ، عبدالسبحان خان، ډاکټر خورشید عالم او رحمت شاه سائل وغېره د ذکر قابل دي -**

**پۀ دې اړه " مشال" هم زیرک سیاست دان او ستر ادیب اجمل خټک بابا سره مرکه کړې ده او د هغوي مختلفې سیاسي او ادبي هلې ځلې ئې څېړلې دي - پۀ مرکه کوونکیو کښې شمشاد دیپک او سېد قیوم نېکنام شامل وو -**

**اجمل بابا د پښتو ادب او سیاست یو لوے نوم دے - اجمل بابا داسې شخصیت دے چې د پښتو ادب او سیاست کښې نۀ شي نظر انداز کېدے او د هغوي نه بغېر پښتو ادب او سیاست نیمګړې ښکاري - اجمل بابا د خپلو ابتدائي سیاسي هلو ځلو پۀ حقله د " مشال " ملګرو ( نېکنام ،دیپک) ته وائي ؛**

**"د فرنګي جنګ شورو شو - دوئ وئېل چې هندوستان دې**
**زمونږ مرسته وکړي - نو پۀ دغه دور کښې زۀ هم پۀ پارټۍ**
کښې شامل شوے ووم - زمونږ د پارټۍ نه ئې هم مرسته
طلب کړه - زمونږ د پارټۍ مشرانو ورته اووئېل چې تاسو
دا وطن پرېږدئ ، او کۀ نۀ وي ،نو مونږ هم پۀ تاسو پسې
راپاڅو - نو دغه وجه وه چې مونږ به پۀ جناح پارک کښې
چې د پېښور نه یو طرف ته وۀ - میټنګونه کول " (8)

اجمل بابا یو پوهه او زیرک انسان وۀ او د پښتنو پۀ مرضونو پوهه وۀ چې دوئ نااتفاقه دي او ټول ځان ته څۀ څیزونه وائي - پۀ دې حقله د " مشال " ملګرو ته وائي؛

"اوس دنیا یو عالمي ښار شو - اوس د ټولې نړۍ د انسانیت د
ورورولئ زمانه راروانه ده - زۀ وائم چې پښتون دې هم پۀ دغه
ورورولئ کښې یو اواز شي - یو ښۀ سیال شي او بل دې
خوري نا - استحصال او استعمار دې نۀ کوي ، خدمت دې
کوي، نو زما یقین دے چې پښتون روان دے هغه طرف ته -
خو هله ، چې دا زما زما،چې زۀ زۀ یم ، دا ختم کړي "(9)

اجمل بابا پۀ سیاسي لحاظ خدائي خدمتګار تحریک سره تعلق لرلو ، او ادبي مکتب ئې ترقي پسندي وه - د خپلې سیاسي او ادبي قبلې پحقله د یو سوال پۀ جواب کښې وائي ؛

" زمونږ پۀ دې ځاے کښې سیاست وۀ چې باچا خان شورو
کړے وۀ - نو پۀ مونږ دا سیاست او دا بدلون ښۀ لګېدو ،
او د انګرېز خلاف چغه راباندې خوږه لګېده - دغه شے
وۀ چې ما پۀ هغوي کښې بیا موندو - او کمیونسټ مې
پۀ دې خوښ وو چې زمونږ دا ماحول دغریبۍ وۀ - پلار
مې هم مزدوري کوله او مور مې هم مزدوري کوله - دا

احساس راسره وهٔ نو دا څیزونه  راباندې  ښهٔ  لګېدل -
زهٔ ترقي پسند وومه نو هغه رنګ مې واخستو (10)
د " مشال" پهٔ مرکو کښې د ټولو نه اوږده او تفصیلي مرکه دا ده - وجه ئې دا ده چې اجمل بابا یو سترګه ور او ګویانه سړے وهٔ - پهٔ هره خبره ورسره ډېر بحث وهٔ - چې د " مشال" صحافیانو به ترې سوال وکړو نو بابا به لګیا شو، او د هغه سوال بیخي وېښ ته به اورسېدو  او یو تفصیلي او مدلل جواب به ئې راوړهٔ - ددې مرکې پڅقله نیکنام صېب وائي :

**" زهٔ او دیپک صېب سحر وختي د دیپک صېب پهٔ موټر کښې اکوړې ته لاړو - د ګران اجمل خټک بابا پهٔ حجره کښې ناست وو - اجمل بابا د توربخن څادر نه پټکے وهلے وهٔ - د څادر پهٔ پټکي کښې ئې شمله جوړه کړې وه - مشر وهٔ خو حجرې ته راوتے شهٔ - د خبر پخبر نه پس چې مرکه شورو شوه ، نو اول خو ما لیکل شورو کړل ،خو د اجمل خټک بابا د انټرویو انداز بدل وهٔ - بیا دیپک منده کړه - پهٔ ګاډي کښې ورسره ټېپ رېکارډ پروت وهٔ - هاغه وخت د کېسټو زمانه وه،** مونږ اورېدل او ټېپ رېکارډ ټېپ کول - او څهٔ سوالونه وو چې بابا پخپله اووېل چې نېکنامه دا سوال زما نه ؤپوښته ، زهٔ غواړم چې ددې د جواب نه د " مشال " پهٔ ذریعه خلق خبر شي - بیا زهٔ او دیپک پهٔ السېد اولډ پارټس کښې کښېناستو او ډېره پهٔ ګرانه مو دغه مرکه ؤلیکله " (11)

دا یوه ډېره مهمه مرکه ده چې نهٔ صرف د اجمل بابا سیاسي او ادبي سترې پهٔ ډاګه کوي بلکه د هغه وخت سیاسي ، سماجي او د مرکزي حکومت د استحصالي سازشونو نه هم پرده پورته کوي -

کهٔ مونږ د مشال مجلې د مرکو پهٔ برخو یو اجمالي نظر واچوو نو معلومه به شي چې پهٔ دغه مرکو کښې ډېرې مهمې او د کار خبرې شوې دي - لکه شمس الاقبال شمس او ناصر سیماب سره پهٔ مرکو کښې پهٔ مصورۍ او خطاطۍ ډېر مهم بحث شوے دے او د مصورۍ او خطاطۍ د فن او تکنیک پهٔ حواله ګټورې خبرې د پښتو د نثر برخه ګرځېدلي ده او لوستونکي ئې د دغه فن د اندرون نه خبر کړې دي - دغه شان ګلزار عالم سره پکښې د موسیقۍ پهٔ فن او هنر قیمتي خبرې شوې دي - دې نه علاوه اجمل خټک صېب سره پهٔ ادب او سیاست علمي بحث شوے دے چې ثمرات ئې پښتو ژبې او ادب ته رسېدلي دي او پهٔ دې مرکو کښې د پښتو ژبې لمن ته د څهٔ نوې ورکولو هڅه شوې ده -

حوالې


1. بېتاب ، ګل محمد ،تاریخي مرکې ،سریزه فیض الوهاب،2022، مخ 11
2. درې میاشتینی مشال ، اپرېل ،مئي، جون 2009 مخ 9
3. هم دغه اثر ، مخ 11
4. درې میاشتینی مشال ، اکتوبر ،نومبر ،دسمبر 2007 ، مخ 25
5. هم دغه اثر ، مخ 26
6. درې میاشتینی مشال ، جنوري ، فروري ، مارچ 2010 ، مخ 17
7. هم دغه اثر ، مخ 17
8. درې میاشتینی مشال ، مارچ ،اپرېل ،مئي 2007 ، مخ 11
9. هم دغه اثر ، مخ13
10. هم دغه اثر ، مخ 13
11. انټرویو،سېد قیوم نېکنام(ایډیټر مشال)، 11 مارچ 2025